د مالیې وزارت

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره

# خبرپاڼه

## د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره او د مالیې وزارت د ادراي فساد پر خلاف په ګډه جګړه کوي

کابل، ۴ تله ۱۳۸۴

د مالیې وزیر ښاغلي انورالحق احدي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې ریسي آغلې انیتا نیرودي د حساب ورکولو او روڼتیا پروژه، چې د مالیې وزارت او د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره یې په ګډه پلي کوي، نن په رسمي توګه پرانیستله.

دا چې د اداري فساد پرخلاف جګړه د افغان دولت لپاره یو ستر لومړیتوب دی ، د ملګرو ملتو پرمختیايي اداري له دولتي همکارانو، مدني ټولني او مرستندویانو سره تر پراخه سلامشورو وروسته د افغانستان د (لندن) له تړون او د افغانستان له منځمهاله پرمختیايي ستراتیژۍ سره سم د حساب ورکولو او روڼتیا پروژه برابره کړه، چې لومړی پړاو به یې د ۲۰۰۸م تر جون پورې دوام وکړي.

د حساب ورکولو او روڼتیا پروژه به ټول ټال شا او خوا ۲.۴ میلونه امریکایي ډالر بودجه ولري او د مالیې وزارت سیاسي مشرتابه، له نورو عامه بنسټونو (نهادونو) سره کلکو اړیکو او د اداري فساد ضد تګلارو او پروګرامونو د پراخبنسټه لارو چارو له ودې سره لېوالتیا ته په پام سره به په همدې وزارت کې ځای پر ځای شي. په دغه پروژه کې به له مهمو دولتي ادارو سره، چې د اداري فساد پرخلاف جګړه کې ونډه لري، ګډ کار وشي او له اړوندو پرمختیاي همکارو مؤسسو سره په همږی کې به د اداري فساد پرخلاف د مبارزې چارې پر مخ یوړل شي.

د پروژې عمده موخه له افغان دولت سره د لندن د تړون د موخو په لاسته راوړلو او د ملي پرمختیايي ستراتیژۍ دننه د اداري فساد ضد پراخه ستراتیژۍ په چمتوکولو کې مرسته ده. پروژه همدارنګه غواړي چې په مهمو دولتي ادارو کې د ازمیښتي پروژو د ازمویلو، د اداري فساد د څرک لګولو د لارو چاورو او ځیرونو په ګډون د امانتداري د څارني د سیسټمونو د برابرولو او د دولتي کارمندانو تر څنګ د عامه ولس د پوهاوي له لارې د اداري فساد ضد ستراتیژیکو تګلارو او پروګرامونو لپاره ځمکه اواره کړي.

دغه پروژه به د لندن له تړون او له ملي پرمختيايي ستراتيژئ سره سم د اداري فساد ضد تګلارو او پروګرامونو د پلي کولو لپاره اداري، حقوقي او پاليسي چاپريال کې ښه والی راولي؛ په امتحاني وزارتونو او د مرستو په سمبالولو کې به امانتداري او حساب ورکولو ته وده ورکړي او په افغانستان کې د شته اداري فساد په هکله به د پوهې او خبرتيا کچه لوړه کړي.

د دغو موخو د لاسته راوړنې لپاره به پروژه له ماليې وزارت سره د اداري فساد د خطر د ارزونې د لارو چارو په چمتوکولو کې مرسته وکړي او په دې لړ کې به د بودجې او اداري رياستونو اداري بهيرونه وڅيړي او د ممکنه اداري فساد د ساحو د محدودولو د څرنګوالي لپاره به سپارښتنې وړاندې کړي. پر دې سربېره به پروژه د پلټنې له رياست سره د پلټنې د لارښود په لا پراختيا کې مرسته وکړي. له عدليې وزارت سره به پروژه د فساد پر خلاف د ملګرو ملتونو د نړيوال تړون د قانون د بيا کتنې او همدارنګه په عدليې وزارت کې د اداري فساد د خطرو د ارزولو د لارو چارو په برخه کې مرسته وکړي.

د ملګرو ملتونو له پرمختيايي اداري او د ايټاليا او ناروې په ګډون له نورو مرستندويه هېوادونو نه د مننې پرمهال د ماليې وزير ښاغلي احدي زياته کړه چې "اداري فساد د يوې وژونکې ناروغی په څير زموږ ټولنه ناورغه کوي. دا د هر افغان مسلکي او اخلاقي دنده ده، که هغه خدمت وړاندې کووونکی يا خدمت ترلاسه کوونکی وي، چې د اداري فساد پر خلاف جګړه وکړي. موږ دلته د ماليې په وزارت کې دغې مبارزې ته ژمن يوو. د حساب ورکولو او روڼتيا دغه پروژه به زموږ لپاره په ځانګړې توګه ګټوره وي ځکه چې زموږ د اداري فساد د مخنيوي له هڅو سره مرسته کوي."

د دغې پروژې پرانيستنه د اداري فساد پر خلاف د جګړې په لار کې د ماليې وزارت له خوا د يو بل ستر ګام پورته کېدا ښيي. تيره اونئ په يو ورکشاف کې، ډاکټر احدي ولس ته د اداري فساد ضد هغه ښوونيز پروګرام وروپيژنده چې د اداري فساد، د هغه د لاملونو، پر ټولنه د اداري فساد د ناوړه اغيزو او د اداري فساد ضد نوي پروګرام په هکله په ټول افغانستان کې د ماليې وزات د کارکوونکو د اګاهي د کچې د لوړولو لپاره تيار شوی دی.


ارين شريفي
وياند
د ماليې وزارت
برېښليک:arian.sharifi@gmail.com
موبايل: 442 20 29 75(0) 93+

ډارکو پاولويک
د حساب ورکولو او روڼتيا د پروژې مدير
د ماليې وزارت
برېښليکdarko.pavlovic@undp.org
موبايل:137 494 707 (0) 93+